هفته نامه

اتحاد اسلامي

بیانګرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرله پسې ګڼه «۲۳٤» اوم کال «۳٦» ګڼه
دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دعقرب «۱۱» د ۱٤۱۲هـ ق
کال جمادی الاول «۲٦» اود ۱۹۹۱میلادی کال دسمبر «۲»

PROPERTY OF ACKU

دغور په ولایت کې دملحدرژیم دملیشه وڅلور قوماندانان د (۲۷۰) تنو ملیشه و سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی

دمیډیا خبري آژانس دریوټ په اساس دغور ولایت دمرکز «چغچران» په شاوخواکي دکابل رژیم دقواؤ دوه سوه تنه ملیشه دقوماندان عبدالله او احمد په نومونو مجاهدینو ته دنومبر په ۲۷ نېټه برته له حګړي داسلامي عفوي او ارتباط له مخي تسلیم شویدي.

دخبرګاي دریوټ مطابق، دقوماندان عبدالله او احمد ملیشه ؤ دسل میلو کلاشینکوفونو، (۷) درندو ماشیندارو، دوه دهشکوواو میله راکټ اریږي چې ۷، دوه سیټه مخابرو او دزیات مقدار نظامي او لوژستیکي موادو سره مجاهدینو ته په ورتسلیم کولو دمجاهدینو په مقابل کې دجګړي څخه لاس اخیستي دي.

خبر ځاي په بو بل ریوټ کې زیاتوي چې دغه راز دکابل دړژیم دملیشه ؤ دوه تنه قوماندانانو هریو دین محمد او سورګل د (۷۰) تنو ملیشه ؤ سره دچغچران مرکز د دولت بار سیمي له پوستو څخه بې له جګړي مجاهدینو ته دنومبر په (۲۸) نېټه دارتباط دلاري پناه راوړي

غلورم مخ

مجاهدینو د جوزجان په ولایت کې دکابل دکونیست رژیم پنځه پوستې فتح کړیدي

دمجاهدینوبوجهادي خبر ځاي دجوزجان له ولایت نه ریوټ ورکړ چې مجاهدینو دنومبر په (۲٤) نېټه ددرندو اوسپکو وسلو څخه په استفادي سره ددغه ولایت مرکز دشبرغان ښارته نژدي دنفت اوګاز په امنیتي پوستو اوپوځي مرکزونو برید وکړ چې په نتیجه کښي دکابل رژیم دقواؤ پنځه پوستې فتح، ۹ تنه عسکر، صاحب منصبان اوملیشه مړه، څلور تنه ټپیان او اته تنه دپرچم دولتي افراد دڅلورو تنو عسکرو سره ژوندي نیول شویدي.

ریوټ زیاتوي چې مجاهدینو پدي برید کې دړژیم یوه دبرمي دستګاه له اوو پایو مربوطو ماشینونو سره اوڅلور عرادي پوځي لاري داورلمبه کړيدي.

دخبر ځاي دخبر له مخي مجاهدینو

غلورم مخ

دافغانستان دقضیې دحل په هکله نړیوال پیشنهادونه اوزمونږ دریځ

مونږ ولې «نه» ویلي دي !؟

پوهاند عبدرب الرسول سیاف

> زمونږدوستان دې په دې پوه شي چې دمجاهدینوحکومت به ددوی اوافغانانو او دټول اسلامي اُمت ددنیا اوآخرت په خیر او ښیګڼه وي، اونور حکومتونه چې په غیر له مجاهدینو مینځ ته راځی هغه به د روسیی او امریکالاس پوځي اودهغو تراحسان لاندې حکومتونه وي.

> مونږ دهغه سرکوزی دښمن کورته ورتګ چې زمونږ ددین اوناموس دښمن وي اوتراوسه پورې یې زمونږ دشهیدانو وینې له پنجو اوغاښونو څخه څڅیږي هم داسلام له أصولواوهم دافغاني دوداودستور سره منافي بولو.

دالبنیان خبري آژانس رالیږنه:

بسم الله الرحمن الرحیم

کوم جهاد چې په افغانستان کښې ددیارلسوکلوڅخه رایدیخواجریان لري، دهغه لوی مقصد په افغانستان کې دیوه سوچه اسلامي نظام قایمیدل وو اودی، چې البته پدې هکله هیڅ مسلمان ددنیا په هیڅ ګوټ کښې له مونږ سره اختلاف نلري.

بیا بالخاصه هغه کسان چې دوسله وال جهاد له شروع کیدو څخه پخوا دیوی اسلامي ټولنی اویوه اسلامي نظام د مینځ ته راتلود پاره یې دعوت چلوه. هغوی ددی جهاد په هرقدم اوهرپړاوکښي داخبره دیوه سترنصب العین په حیث دخپلوسترګو په وړاندې درلوده اواوس یې هم لري.

یا په بل عبارت څوك چه داسلامي نظام اود اسلامي ټولنې دجوړیدو لپاره دعوت چلوي اویاجهاد کوي نو ددعوت اوجهاد دلارې په اوږدوکښي به هم داسلامي اصولو اومقرراتو التزام کوي اوداسلام دلارې څخه به بهرقدم نږدي.

لذې کبله تومونږچه دجهاد داستمرار یا دقضیې دحل دپاره کله هم کوم کار کوو په هغه کښي باید د اسلام داصولو، احکامو اوضوابطو مراعات وکړو اودسیاست اومصلحت په نامه په خپلو دریځونو او مواقفو کښي داسلامي لارښونو پابند اوسو او ورڅخه تېری ونکړو. ځکه چې داسلام دچوکاټ څخه بهرمصلحت نشته پدې اساس موکه تراوسه څه مواقف نیولي او یامو له مختلفو پیشنها دونو سره برخوردکړی دی هغه مو د اسلامي وجیبی په اساس داسلامي اصولو اواساساتو په تله کښي اچولي کوم ته چه اسلام اجازه ورکړې دهغو مواستقبال اوهرکلی کړی دی اوکوم ته چې اسلام اجازه نده ورکړې هغوته مو (نه) ویلي اوپر خلاف یې دریدلي یونا: په مختصرډول وېلای شوچې مونږ دافغانستان دقضیې دحل په رابطه اوهمدارنګه دژوند دنورو اړخونو په هکله داسلامي دندې اومسئولیت په بنیاد دشریعت په منطق غږیدلي یو اوالله جلت عظمته ته دعا کوو چې وروسته لدې هم ددې توفیق راکړي.

اوس به دافغانستان دقضیې په ارتباط په دنیاکښي مطرح مختلف وړاندیزونه اوطرحې دلوستونکو په مخ کښي کیږدو بیابه دوی ته دقضاوت

حق ورکړو چې مونږته مشوره راکړي چې دهغویه وړاندې دیوه مسلمان په حیث (هو) ووایو که (نه) !؟

۱- کمونستانو سره دناسته ولاړې یا دافغانانو دداخلي خبرواترو له لارې دافغانستان دقضیې حل.

۲- مختلط اوګډحکومت جوړول.

۳- بې طرف حکومت جوړول.

٤- براد بس یا د لوبی قا عدی حکومت جوړول.

٤- روسانوسره د افغانستان دراتلونکی په باب خبري کول.

مونږدغوټولو پیشنهادونوته «نه» ویلي دي. تواوس به دا پیشنهادونه بویو داسلام په تله کښی واچوو بیابه وګوروچه داسلام دمقرراتو په رڼاکښي ددغو پیشنهادونو له جملې څخه دکوم یو په هکله د (هو) ویلو مجال اوامکان شته دی که نه!

۱-کمونستانوسره ناسته ولاړه اودبین الافغانی مذاکراتوله لارې دافغانستان دقضیې حل.

دیروخلکوپخواهم ویلي اودا اوس یې هم واني چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم له کفارو اومشرکینو سره ناست دی،خبرې یې ورسره کړي اوقراردادونه اوسولې یې ورسره کړې اودحدیبې صلح اودبني نضیر اوبني قریظه دیهودانو سره یې قرار دادونه کړي دي. نو دالحا د اسلامي افغانستان تنظیم اوسیاف داخبره له کومه کړي ده چې مونږله کمونستانوسره نه کیناواونه خبرې ورسره کوو، آیاکوم کارچې پیغمبر صلی الله علیه وسلم اواصحابو رضی الله عنهم کړې دې؛ دهغو دکولو څخه هم دوی ډډه کوي او.....

خویه ډیر تأسف سره باید ووایو چې کوم کسان چې دغه خبرې کوي یاخوبې شرعي فهم اودرك ډیرضعیف اوکمزوری دی اویاداچې دافغانستان وضعه اوزمونږ ددښمنانو حالت ددي دیارلس کلن جهاد په اوږدوکښي ورته سم ندی معلوم شوی نوځکه دغسی مع الفارق اوبې اساسه قیاسونه کوي اونه احکام په حوادثو اوپیښو سم تطبیقولای شي.

دشریعت تفصیل پدې موضوع کښې داسې دی چې کافر اومشرك ځان ته حکم لري - اوزندیق اومرتد ځان ته حکم لري. له کافراومشرك سره خبرې اترې کول، قراردادونه لاس لیك کول، خرید اوفروش او په ټولینزو چاروکې پیش آمد جایز دی؛ خومرتد اوزندیق سره خبرې کول ناسته ولاړه اونورتعاملات ټول حرام اوناجایزدي په تیره بیا دمسلمانانو په کورنیو چارو اود جهاد او هیواد د سرنوشت په ټاکلو کښي.

۳مخ

مجاهدینو په هرات اوغورولایتونوکې ددښمن دوه پوستې له مینځه وړې دي

له کویټي نه میډیا ته په رسیدلو ریوټونو کښي ویل شوي چې مجاهدینو دنومبر په ۲۷ نېټه ددغه ولایت دشهرك دولسوالي پرشاوخوا امنیتي پوستو باندې ددرندو وسلو څخه په استفادي سره بولې بریالي عملیات ترسره کړل چې دهغو په نتیجه کي دکابل دکمونیست رژیم دقواؤ یوه پوسته ویجاړه، یوشمیر عسکر اوملیشه مړه او دوه تنه صاحب منصبان د غلام نبي او احمد خان په نوم داوو تنو مسلحو ملیشه ؤ سره دمجاهدینو لخوا ژوندي نیول شویدي.

همدا راز دنوموړي ولایت نه دیوبل ریوټ له مخې مجاهدینو دنومبر په ۲٦ نېټه دشهرك دولسوالي د«فالیزك» په سیمه کې دړژیم پر ملیشه قواؤ برید وکړ چې دهغه په ترڅ کي دکابل رژیم دقواؤ نه دري تنه ملیشه مړه یو شمیر نوریې ټپیان او پاتي یې په تیښته مجبور شویدي.

غلورم مخ

خانم نجیب رئیس حکومت کابل به فرانسه فرار کرد

خبرنګار اعزامي میدیا که تازه ازکابل به پشاور بازګشته است خبر میدهد که به دنبال مشوره، نجیب به وابستګان واقاربش به فرار از افغانستان ویه سلسله، ګریز آنها ازکشور اینك فتانه خانم نجیب به فرانسه ګریخته است.

خبرنګار میدیا ازقول یکي ازوابستګان نزدیك نجیب که تقاضاشده نامش افشانشود، مي افزاید، نجیب اخیراً درفرانسه عمارتي خریداري کرده ودرنظر دارد خود نیز ازطریق هندوستان به آنجا فرارکند.

طبق راپور، احمد سرور باجه، نجیب که سمت سفارت افغانستان دردهلي را دارد درخریداري عمارت درفرانسه نقش اساسي داشته وخانم نجیب نیز ازطریق هندوستان به فرانسه رفته است.

خبرنګار میدیا به نقل ازشایعات منتشره درکابل مي افزاید: احتمال دارد نجیب وبسیاري از همدوستان وي که

صفحه چهار

راشد الغنوشي ازسکوت مطبوعات الجزایر نسبت جنایات رژیم تونس انتقاد کرد

راشد الغنوشي رهبر جنبش اسلامي النهضه تونس طي نامه اي به یکي از روزنامه هاي الجزایر ازسکوت مطبوعات اینکشور نسبت به جنایات رژیم تونس وهمصدایي بارسانه هاي دستجمعي غرب انتقاد کرد.

بګزارش خبرګزاري جمهوري اسلامي غنوشي درنامه، خود که درشماره ۵ نوامبر روزنامه الخبر چاپ الجزیره منتشر شد نسبت به همصدایي اکثر رسانه هاي اطلاعاتي الجزایر به مطبوعات غرب در ارزیابي اوضاع درتونس ابراز تعجب کرده ونوشته است که دراین کشور روزانه عده اي ازمردم بیګناه کشته میشوند واین درحالي است که تاکنون سي هزار نفر دستګیر ودوازده روزنامه، توصیف شده است.

غنوشي درنامه، خود نوشته است: تعجب، تأسف واندوه شدید من تنها بخاطر قتل عام وفجایع مستمر دروز فیزون درتونس که نظري در دنیا عرب واسلام ندارد، نیست بلکه براي سکوت در برابر جنایت وحمایت از جنایتکاران وسرپوش ګذاشتن بر روي اعمال آنان است.

یا آوري میشود که این اولین بار است که پس از اعلام خبر کشف به اصطلاح توطئه جنبش النهضه علیه رئیس جمهور تونس یك روزنامه الجزایر نامه اي از راشد الغنوشي منتشر مي سازد.

به ایبك بارکې دمزدور رژیم دخاد دشبکې قوماندان اویو صاحب منصب دمجاهدینو دځاي په ځاي شویو ماینونو دچاودیدو په اثر ووژل شول

دسمنګانو له ولایت څخه ریوټ ورکړ شوی دی چې دمجاهدینو یو چریکي ډلي دنومبر په (۲۵) نېټه دسمنګانو ولایت مرکز دایبك ښار دسوسن خیلو په عمومي جاده کي ددوو میشونو په خپلولو سر دامنیت دوزارت مربوط دسمین دخاد شبکې قوماندان چې دوګرمني رتبه یې لرله، سره دیویل منصبدار چې په موټر کې سواره ؤ ددغو میښونو سره په ټکرکې ویجاړ او دوي پکښي ووژل شوي دي.

خبرځاي واني چې په دغه ځاي کښي دخاد ودانی ترڅنګ په نوموړي ورځ دیوبل مین دچاودني له امله دړژیم یو عراده ټانك ویجاړ اویکښي ناستي سپرلي ووژل شوي دي.

به کوریا کښي دامریکا دفرهنګی مرکز په وړاندي دمحصلینو مظاهرې

سیول - دقوس ۱۰

دجنوبي کوریا اعتراض لرونکو محصلینو دشبې په ورځ په سیول کښې دامریکا دفرهنګي مرکز ودانې په پټرولي بمونو سره ترحملي لاندې ونیوله. دا په

غلورم مخ

بخش شایعات احتمالي فرار مقامات رژیم کابل بازارهاي این شهر را ازاسعار خارجي خالي کرده

این مطلب را دوتن از اعضاي یك خانواده، افغان که شام ۲۹ نومبر بامریضي به پشاور آمده اند اظهار داشته، افزوده اند: شایعات احتمال فرار مقامات رژیم از کابل روز تا روز قوت مي ګیرد وګفته میشود بزودي عده، از آنها به همراهي نجیب ازکابل فرار مینمایند.

این مریضداران میګویند بمنظور انتقال مریض به پشاور براي تهیه، چند روپیه، کلدار به سراي شهزاده محل داد وستد اسعار خارجي مراجعه کردند اما صرف موفق به دریافت یکصد کلدار شدند.

صفحه چهار

په یوګوسلاویا کښې ددیموکراتیك اقدام اسلامي ګوند لومړی کنګرې په کار پیل وکړ

بلګراد دقوس ۱۰

په یوګوسلاویا کښې ددیموکراتیك اقدام په نامه د اسلامي ګوند لومړی کنګرې دبوسني هرزګوین، دمسلمان میشت جمهوریت په مرکز سارا یوو کښې په کار پیل وکړ.

دټولې یوګوسلاویا څخه ددغه ګوند ۱۵۰۰ تنو نمایندګانو ددغه هیواد درئیس العلماء او نامتو عالمانو اوبهرنیو میلمنو او دبوسني هرزګوین دسیاسي مقاماتو په ملګرتیا په افتتاحیه غونډه کښې ګهون درلود.

دډیموکراتیك اقدام ګوند دبوسني هرزګوین په جمهوریت کښې ډیره پیاوړې سیاسي ډله ده اودصربیانو او کرواتیانو په ملګرتیا په دې جمهوریت کښې قدرت په

غلورم مخ

تاسیس خبرګزاري اسلامي یوګوسلاویا

مسلمانان یوګوسلاویا باتأسیس یك خبر ګزاري بنام «مینا» اطلاعات واخبار خود را در اختیار مردم جهان بخصوص کشورهاي اسلامي قرارمیدهند.

صفحه چهار

هفته‌نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي اتحاد

د تأسیس نیټه: ۱۳٦٤ کال د عقرب میاشت

خپرونکې اداره: د دعوت اوارشاد فرهنگي څانگه

سرمقاله

مینه او کرکه

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د مبارك حدیث مفهوم دي: « د چاچي دوستي د خداي له پاره وکړه ، دښمني یې د خداي له پاره وکړه ، ورکړه یې د خداي له پاره وکړه او منع یې دخداي له پاره وکړه ، هغه خپل ایمان بشپړکړ » .

دا مبارك نبوي ارشاد موږته د دوستي او دښمني دواړه لاري په ځرگند ډول رانښودلي دي او دهغو معیارونه یې هم راپه گوته کړي دي چې د مسلمان دوستي له مسلمان سره وي اوهدف به یې داوي چې په دغې دوستي باندي خداي خوشاله شي او د دوستي دغه پیوند د عقیدې پیوند دي ، د مینې او محبت هغه پیوند دي چې یوازې بنده له بنده سره نه بلکې له همدې لارې بنده له خداي سره وصل کوي . دا د خداي ارشاد دي چې مؤمنان سره ورونه دي ، دا ورورولي نه شلیدونکې ورور ولي ده ، په مادي اسبابو بناءنده ، په معنوي ریښو ترلې ده ، سطحي نده ، ډیره عمیقه او ژوره ده ، نه غرونه په کښي حایل واقع کیداي شي ، نه سمندرونه اونه پراخ اویلن ټاټوبي . نه دغه پیوند د ژبي په تبعیض غوځیداي شي ، نه درنگ اونه د نژاد په تبعیض سره . که یو مؤمن په ختیز کښي ژوند کوي اویل په لویدیز کښي خوکله یې چې عقیده سره شریکه ده دوي په خپلو مینځو کښي د خوږي ورور ولي علایق لري ، یودبل په سر لوړي ، سرلوړي اوپه مصیبت یې د غم او اندیښنې احساس کوي .

خوکله چې د عقیدې پیوند په مینځ کښي نه وي په هغه صورت کښي نه د ژبي یووالي اعتبار موندلي شي ، نه درنگ اونه د نژاد اونه د خاورې او وطن یووالي بلکې د یو پلار دوه سکني زامن چې یو کافر اویل مسلمان وي دوي نه یوازي په خپلو کښي ورونه اودوستان ندي بلکې سرسخت دښمنان دي ، د اسلام غوښتنه هم داده چې مسلمان به له خپل کافر ورور سره د دوستي چلند نه بلکې د دښمني چلند کوي اوکه ددې برعکس حرکت وکړي نو د خداي دعذاب انتظار دي وباسي .

الله تعالیٰ د سورة توبه په ۲۳ -۲٤ لمبر آیتونو کښي په دې مفهوم فرماني:

اي مؤمنانو ! خپل پلرونه اوخپل ورونه صمیمي خواخوږي مه گڼئ کله چې هغوي کفرته په ایمان باندي ترجیح ورکړي اوله تاسي نه چې څوك له هغوسره صمیمي او د زړه له کومې دوستي ولري نو همغوي ظالمان دي . ووایه چې که ستاسي پلرونه ، ستاسي زامن ، ستاسي ورونه ، ستاسي میرمني ، ستاسي خپلوان ستاسي غونډ کړي مالونه او هغه تجارتونه چې له کوړه کیدونه نه یې ویریږئ ، اوستاسي د خوښي وړکورونه تاسي ته له الله نه ، د الله له رسول نه اودهغه په لاره کښي له جهاد کولو نه محبوب اوگران وي نو انتظار وکړئ چې الله خپل امر صادر کړي او الله فاسقانوته هدایت نه کوي » .

ددې مطلب دادي چې قرآن د خپلوانو اومالونو مینه په یوه پله کښي واچوله اود الله اورسول او د الله په لاره کښي د جهاد مینه په بله پله کښي . اوس به ولیدل شي چې چاته د پلار ولیر او زویولي مینه ازدواجي پیوندونه او مادي خوندونه محبوب دي اوچاته له دې هرڅه نه الله اورسول او في سبیل الله جهاد محبوب دي خو په هرحال په یو زړه کښي یوه مینه ځانیږي نه دواړه . له یوه سره به مینه کوي اوله بل نه کرکه . داسي نشي کیداي چې مینه اوکرکه دواړه جمع کړي . د قرآني مبارکو ایتونو په دې مضمون کښي د الله او رسول ترڅنگ د جهاد یادونه له دې امله راغلې ده چې له الله اورسول سره د مینې عملي ثبوت په جهاد سره رانلاي شي ، که داسي پیښه شي چې د یو مسلمان خپلوان د کافرانو په صف کښي ودریږي نودې به دهغو په ضد جهاد کوي اوهیڅ نوع قلبي خواخوږي به ورسره نه ساتي . د ویني اونسب له ریښونه به اسلامي پیوندونوته ترجیح ورکوي ، که د اسلام په خاطر کورونه ، مالونه ، جایدادونه او تجارتونه ورڅخه پاتي کیږي هغه به پریږدي خو د الله د دین د اقامې له پاره به جهاد ته ادامه ورکوي . د مصلحت پرستي په نوم له دښمنانو سره د دوستي اجازه اسلام هیڅکله نه ورکوي اونه ددې چې د مادي تمې له پاره یې کرکه په مینه بدله شي .

زموږ د جهاد په اوږدوکښي زموږ هرمسلمان وگړي د مینې اوکرکې له دغو صحنو سره مخامخ شو . کوم کسان چې د اسلام په پریښودو او د کمونیزم په انتخابولو مرتدان اوزندیقان شول هغوي د خپلې دښمنی عملي ثبوت وړاندې کړ ، د قدرت په گدي باندي له کښیناستو سره سم یې د دیني علماؤ ، د اسلامي تحریك د ځوانانو اونورو ټولو هغو مسلمانانو په وژنه لاس پوري کړ چې دهغوي په زړه کښي د اسلام مینه پرته وه اوله کفر اوالحاد نه یې کرکه لرله .

دغو درنده ځناورو په داسي بیرحمانه وژنو لاس پوري کړ چې په تاریخ کښي یې ساري نه ؤلیدل شوي ، سربیره په دې چې هره شپه یې د خلکو په کورونو باندي حملې کولې ، مسلمانان یې له خپلو کورونو څخه راویستل اوپه خونړیو زندانونو کښي یې غورځول ، هلته یې تریوې مودې تعذیبول اوبیا یې شهیدانول په عامو وژنو یې هم لاس پوري کړ . ډیرځرگند مثالونه یې د هرات ، کونړ اولغمان ولایتونه دي چې د زرگونو کسانو سرتي یې په گولیو غلبیل غلبیل کړي اوهیڅ یې په زړه کښي ترس رانغي چې ددې خلکو جرم څه دي !! روسي وحشي پوځونو د افغانستان د ښمو خلکو په کرونو باندي هره شپه داړي غورځولي ،

تظاهر وریاکاري

تظاهر ، سمعه وریا کاري یکي ازخصایل زشت وعوامل بدبختي جامعه بشمار میرود واین صفات قبیحه چه به شکل فردي ویا اجتماعي موجبات هلاکت عامه را فراهم مي سازد واسلام درستأصل ساختن این مرض مبارزه ، قاطع وفراگیر را بر امراء ورعایا ، مؤمنین ومؤمنات ، علماء وطلبا ودرمجموع بر فرد فرد جامعه ، اسلامي لازم وواجب میداند تا همچو امراض ازقلوب ونفوس مسلمین زدوده شود ودرعوض تعاطف واخلاصمندي دراجتماع حاکم گردد . ارائه وسمعه ، افعال واعمال ونفوذ ریا در عبادات وطاعات ثواب وترتب پاداش اعمال صالحه راچنان حبط مي نماید که نه تنها باعث محرومیت ازقبولیت عبادات همچو اشخاص درپیشگاه خداوند متعال میشود بلکه در ارتکاب سمعه وریا صاحب آن مرتکب شرك خفي مي شود که منافي توحید خالص ودیانت است . به همان پیمانه ایکه شخص مؤمن وموحد درجهت تزکیه ، عقیده ، طیبه ، خود سعي وجهاد میکند تا مرتکب شرك جلي که اکبر الکبایر درشریعت خوانده مي شود بصورت قطع نگردد ، به همین مقیاس در تمام اعمال وافعال واعتقادیات تلاش ومجاهدت پیگیر را درقلع وقمع ریا که شرك اصغر ویا شرك خفي است به راه اندازیم تاخداي نخواسته تمام اعمال وعبادات ما حبط ونابود نگردد . معني تظاهر آشکار را نمودن ونمایان ساختن است

مفهوم سمعه شنواندن وگوشزد کردن است ومراد از ریا بمعرض نمایش ونشان دادن آن کردار ها وگفتارها است که صبغه ، شرعي داشته ومنحیث التکلیف بالاي هرفرد مؤمن ومؤمنه لازم گردیده باشد وجهت نمایان ساختن ونشان دادن آن بدیگران اهدافي چون کسب فضیلت وحس تفوق واحترام برسایرین را نسبت بخود داشته باشد ویا عملي را انجام دهد تا نزد حکام وامراء ، مورد احترام وتقرب شود ویا با تلبیس نمودن کارهاي ریا گونه

عبدالرقیب «جهید»

قصد تحصیل شهرت وثروت را داشته باشد که درهر صورت این گونه اشخاص برعلاوه ، اینکه مورد عقوبت شدید الهي ومذمت اخروي قرارمیگیرند درانجام اعمال شرك آمیز وریا کارانه بقدر یك جو دانه مستحق اجر وپاداش هم نیستند براي تمثیل وتوضیح بهتر مطلب به امثله ، آتي ورسوم حاکم برجو اجتماع اشارتاً ادامه ، سخن را به بیان مختصر پیرامون آن مي پردازیم ودربعضي موارد « خاصه » چون عملي جهت تشویق وترغیب دیگران صورت پذیرد آن در ریا وسمعه داخل نیست مگر بهتر اینست که راز بین عبد والله تعالي پوشیده باشد .

شخص نماز گذار (نماز نفلي باشد یافرضي) همواره نماز را باجماعت ویا منفردانه درمحضر مردم به این منظور خواند تا او را مواظب جماعت ونماز خوان خواب تعریف کنند این عمل شرکي است زیرا درآن عمل جرثومه ، شرك عبارت از « ریا » است مخلوط گردیده است واین عمل از اخلاص جهت عبادت واداء مکلفیت ذات واجب الوجود قایم نگردید بلکه بخاطر اقناع دیگران وایقان مؤمنان که این شخص مرایي را به نظر خوب ومورد احترام واعتماد گردانند درعبارت الهي ریا را مرتکب گردید که بنیاداً این عمل باطل ونمازش واپس به رویش زده مي شود زیرا بزرگترین اصل درتمام عبادات بدني ومالي توحید خالص واخلاص مؤمن شرط ورکن است طوریکه سقف یك عمارت بالاي ارکان ولوازم آن قایم میباشد ونماز که بمنزله ستون است وفرق بین مؤمن وکافر بوده بدون اخلاص وتوحید عبودیت مستجاب نمیشود .

یاشخصي صائم وروزه داري میکند وبگمانش این باشد تا دیگران را آگاه سازد تا نسبت به این عملش وي را مورد تکریم واحترام وتعریف قراردهند ویا اغراض نا مشروع دیگري را منوي داشته باشد روزه اش چه نفلي باش ویافرضي چون دیگر اعمال ریایي مردود است .

یاشخص بجهاد میرود ودرنیت اوکسب شهرت ویاتظاهر شجاعت ویا استحصال ثروت ویا دستیابي به مقام ومکانت ویا اهداف شوم دیگري که مخالف روحیه جهاد في سبیل الله است موجود شود جهادش به کلي مقبول درگاه الهي نیست ودرفرجام به فضیحت رسوایي دردنیا وآخرت مبتلامیگردد .

یا عالمي ودانشمندي تحصیل علمُ را جهت کسب شخصیت وتفوق حیثیت خود بیاموزد وعلم خود را حبة لوجه الله درجهت استفاده ، عموم قرارندهد ومقصدش آن باشدتا اورا دانشمندي متبحر ویا فقیه فاضل ویا عالم بزرگ گویند چنین علماء سوء هم سخترین عقوبت دردناك را نسبت به ارتکاب این دوخصلت سمعه ریا انتظار داشته باشند وهکذا درهر امري از امور دنیوي واخروي ، شرعي وعرفي ، قولي وفعلي که کوچکترین شائبه شرك خفي (ریا) اختلاط گردد آن شخص در اسلام مرایي خوانده مي شود واعمالش مقبول نیست وبرین قیاس درمعاملات مناکحات حدود ، قصاص وغیره باید اصول اسلامي راجداً رعایت نمود .

در روز رستاخیز گروه مرائین ازهر قبیلي که باشد عالم باشد یاحاجي ، مفترض باشد یا متنفل ، مجاهد باشد یا مهاجر ، رهبر باشد یا رهرو ، زن باشد یا مرد درمحضر محکمه ، عدل الهي احضار کرده مي شوند درعمل هرشخصیکه حلول ریا مختلط گردیده باشد حضرت پروردگاه اورا مورد باز پرس قرارمیدهد که چه کردي !؟ فرضاً حاجي باشد وحج را ازروي ریا واینکه مردم اورا حاجي صاحب بگویند ویا مجاهدي که از روي ریا واغراض مادي دست به جهاد زده باشد ویا عالمیکه از روي ریا تامردم اورا مولانا صاحب ویامولوي صاحب بگویند این گونه اعمال را به سر رسانده باشند درجواب چه خواهند داشت مگر اینکه اظهار وندامت !! ودرآنجا خداي متعال میفرماید توجهاد را به این هدف کردي و یا حج را به این غرض بجاکردي ! و . . . خجل زده ودربرابر سایر امم درپیشگاه کبریا ایستاده خواهند ماند . ودرین جا ازحضرت خداوند یکتا وبي همتا از روي اخلاص ویقین مسئلت میداریم تا خداوند کریم بفضل ومن واحسان عمیمي خود آنچه از ما درگذشته سرزده واز دفتر اعمال ما محو نماید ودر آینده ما وهمه ، امت مسلمه را از ارتکاب همچو امراض خانمانسوز وعالمگیر نجات بخشد وبسطح ملت وامت همگي را از راه لطف وکرم مورد بخشایش خود قراردهد وتوفیق آنرا بخشاید تا دربرابر همه مظالم ومنکرات مبارزه ومجادله نمائیم .

تهاجم جدید نیروهاي دولـتي برماعلیه مسلمانـان آنکشور

ازمدتی دولت برما مسلمانان آنکشور را تحت شدید ترین فشارهای خود قرارداده ، زمینها و اموال آنان را مصادره و آنها را مجبور به ترك وطن میکند . این مهاجرین اکثراً در کمپهای مناطق سرحدی بنگلادیش - برما ، استقرار می یابند . با توجه به وضع ناگوار اقتصادی بنگلادیش و مشکلاتی که آن کشور دارد ، وضع مهاجرین مسلمان برما دراین کمپها بسیار رقتبار است . براساس آمارهائی که سازمانهای خصوصی کمك رسانی ارائه داده اند ، تعداد مهاجرین مسلمان برمائی درکمپهای متذکره ۱٦ . . . نفراست ولی فشارها و مظالم قوای دولتی برما همچنان ادامه دارد و هر روز تعداد بیشتری از مسلمانان مهاجر شده و مشکلات کمپها که فاقد امکانات زندگی است ، بیشتر میشود . پیش بینی میشود که باختم فصل باران و آغاز فصل خشك و بازشدن راههای عبور و مرور ، ازمنطقه ، « آراکان » که هم اکنون مورد تهاجم قوای دولتی است تعداد بیشتری از مسلمانان آواره شده و به مهاجرین خواهند پیوست .

یکی از ادعاهای دولت برما در اخراج مسلمانان این است که آنها برمائی نبوده و مهاجرانی هستند که بصورت غیر قانونی دراین کشور ساکن شده اند . دراین رابطه « شاه آلام » یکی از مسلمانان معروف برمائی که زمین و اموال وی مصادره و به همراه همسر و پنج فرزندش جبراً اخراج شده به خبرنگاران گفته است که وی دربرما متولدشده و زمینهای خودرا که اکنون مصادره شده از آباء واجداد خود به ارث برده و برمائی بودنش غیرقابل انکار است . این ادعای دولت برما حربه ای است برای توجیه جنایاتش نسبت به مسلمانان این کشور . سیاستهای ضد اسلامی وحملات نیروهای دولتی برما علیه مسلمانان تازگی ندارد و ازسال ۱۹۷۰ به اینطرف همچنان باشدت روز افزون ادامه داشته است . درسال ۱۹۷۸ نیروهای دولتی برما طی طرحي بنام « شاه اژدها » مناطق مسلمان نشین آراکان را مورد شدید ترین حملات خود قرارداده و بیش ازدوصد هزار مسلمان را بازور وجبراز سرزمین آبایی شان اخراج ودر سرحدات بنگلادیش مهاجرگردند . شاهدان عینی و مهاجرین مسلمان حکایت کرده اند که درعملیات « شاه آژدها » وحملات افراد مسلح و نیروهای دولتی ، تعدادی از مسلمانان به شهادت رسیدند و مهاجمین اموال مردم را غارت وخانه های آنان را به آتش کشیده ، و حتی زنان را مورد تجاوز قراردادند . دولت برما درتوجیه این حرکت اعلام داشت که این مسلمانان مهاجرین غیر قانونی بودند که درمقابل نیروهای دولتی مقاومت گردند . درصورتیکه مهاجرین دارای اسنادی بودند که ثابت کننده ، ملیت برمائی آنان بوده است . به هرحال ازشدت حملات وحشیانه دولت برما در سال ۱۹۷۸ تحت فشار افکار عمومی و احتمالاً اظهار نگرانی کشورهای اسلامی کاسته شد .

گفته میشود تحرکات ضد اسلامی و آواره ساختن مسلمانان که درحال حاضر دولت برما درپیش گرفته ، ازدوسال پیش یعنی ازسال ۱۹۸۸ ، مصادف با شورش عمومی مردم برما برای دیموکراسی شروع شده و ازآن سال به بعد نیروهای دولتی به جابجا کردن مسلمانان ازمحل اقامت شان به مکان دیگری که تحت کنترول کامل اردو است . پرداخته و هزاران نفر ازمسلمانان رابه مناطق دیگری که فاقد امکانات زندگی و صحی وحتی فاقد آب آشامیدنی است ، منتقل کرده اند . حملات فوق همچنان ادامه داشته و دراکتوبر ۱۹۹۰ به منطقه همجوار با سرحد بنگلادیش شامل مناطق « بوتی دوآنگ » و « ماود و آنگ » رسیده است . دراین مناطق نیز اردوی وحشی برما آبادیهای مسلمانان را ویران ، زمینهای مردم را مصادره و اقدام به تأسیس پایگاههای جدید نظامی کرده است . در این مورد لازم به ذکراست که اردوی برماظلم وستم مضاعف دیگری برمسلمانان رواداشته وجمع کثیری ازمردم غیرنظامی را بدون پرداخت معاش برای ساختن قرارگاههای نظامی به کمپهای بیگاری می کشند . شاهدان عینی و مسلمانانی که خود به بیگاری کشیده شده اند نقل کرده اند که اردوی برما زنان و مردان بین سنین ۱۰ تا ٦۰ سال رابه زور به کارهای اجباری وامی دارد .

همچنین درجریان حملات فوق مساجد و مراکز اسلامی موردحمله قرارگرفته وتعدادی ازآنها مسدود و لاك ومهرشده وحتی بعضی از این مساجد تخریب شده است . سیاست دیگر دولت برما انتقال بوداتیان ازسایر مناطق به مناطق مسلمان نشین واسکان آنان به جای مسلمانان و تلاش برای در اقلیت قراردادن مسلمانان درمقابل بوداتیان است . بطور کلی آن گونه که منابع مختلف نقل کرده اند ، سیاست دولت برما درمناطق سرحدی مسلمان نشین برما - بنگلادیش ، این است که هرچه بیشتر مسلمانان را مهاجروکمپهای نظامی تأسیس کنند و به تعقیب آن بوداتیان را جایگزین مسلمانان سازد - که این سیاست فشار شدیدی برمسلمانان این مناطق وارد آورده است

دراین رابطه درسال جاری تعدادی ازعساکر و نیرهای دولتی مستقر درمنطقه ماودوآنگ و بوتی دوآنگ نسبت به سال گذشته به دو برابر افزایش یافته و به شش ازدوهزار نفر رسیده است . درضمن قرارگاههای زیادی جهت پائین شدن و پرواز هلیکوپتر درجاهای مختلف تأسیس شده وزرهپوشها وماشین های محاربوی اردو مرتباً درحال رفت و آمد بین ماودو آنگ و بوتی دوآنگ است علاوه براین چند واحد قوای بحری برما دربندر آکیاب (مرکز مهاجرین) مستقر شده اند و بطور کلی ازظاهر اوضاع چنین برمی آید که دولت برما دراین تحرکات دارای پلانهای طویل المدت است .

اکنون کمپهای مسلمانان مهاجر برما درسرحدات برما - بنگلادیش بیش ازحد معمول تراکم و فاقد امکانات اولیه زندگی است وبدتر ازهمه ، آن که دولت بنگلادیش هم درمورد این مهاجرین همکاریهای لازم رانمی کند ، و این مهاجرین تحت فشار شدید به سرمیبرند . ازطرف دیگر اردوی برما همچنان به اخراج مسلمانان ادامه میدهد ومنابع آگاه و ادارات کمك رسانی هشدارداده اند که باید مسئولان دراین رابطه چاره اندیشی کنند زیرا طوریکه ظاهراً مشاهده میشود نیروهای دولتی برما شاید با پایان یافتن فصل باران (اکتوبر و نوامبر) و آغاز فصل خشك ، مانورهای جدیدی را آغاز کنند که درآنصورت تعدادزیادی ازمسلمانان بنگلادیش به سرحدات بنگلادیش سرازیر خواهند شد .

اعلان

نصرالله ولدفضلومسکونه ولسوالی برکی برك ولایت لوگر دارنده کارت نمبر- ۱۱۱۸۰ -حرکت انقلاب اسلامی که قرار اظهارخودش درموقع حیاتش (که فامیل ام فعلاً درولایت لوگر میباشد و یك پسر دارم که به ایران رفته و خودم جهت تداوی به پاکستان آمدم) نامبرده باثر مریضی اش از دنیا رحلت نمود و ازطرف نورمحمدولد نورخان مسکونه ولسوالی اررو ولایت لوگر ملازم نمایندگی اتحاد اسلامی کمپ گهکول نمبر (۱) مقیم کوهات بخاك سپرده شد .

اقارب اش اگر کدام جای باشد میتواند ازنزد نورمحمد ملازم نمایندگی اتحاد اسلامی مقیم کمپ گهکول نمبر (۱) کوهات معلومات بگیرند .

په عمل کې وحدت زموږ د بریالیتوب ضمانت کولی شي

محمد داؤد « بهار »

دا واقعی خبره ده چی د یوه هیواد یا یوی ټولنی وگړی هغه وخت د تباهی خواته حرکت کوی چی دبی اتفاقی په بد مرض اخته شی اودوحدت له اصلی معنی نه په عمل کی گټه پورته نکړی .

وحدت یا بی اتفاقی یوی ټولنی ته هغه وخت مخه کوی چی د ټولنی وگړی ئی دراتلو شرایط برابر کړی ! اوهغه داسی که د یوه هیواد یا یوی ټولنی وگړی خپل اصلی مسئولیتونه درك کړی اود ټولو استعماری قدرتونو لاس وهنوته چه هدف ئی د دوی په مینځ کی اختلاف اچول دی زمینه برابره نکړی اوخپل هیواد وال د وحدت په خوند وپ.هوی هلته به بی له شکه د.بی اتفاقی ځای وحدت نیولی وی او که خدای (ج) مکړه د یوی بشری ټولنی اوسیدونکی لکه د کابل پرگدی ناست واکمنان له غلیم سره یوځای د خپل هیواد په وراتولو ، د طبیعی اوملی ششمنیو په چوړولو ، اودخپلو بی گناه وطنوالو په وژلو ، اود اسلامی عقایدو په ځای د الحادی عقایدو په رواجولو لاس پوری کړی نو هلته به داسی لاسپوخونه یوازی د خپلی جامعی له اوسیدونکو سره غټ خیانت کړی وی بلکه له ځان سره به ئی هم څکه خیانت کړی وی چی د یوه هیواد یا یوی ټولنی اوسیدونکی په حقیقت کی د یوه بدن د غړو حیثیت لری نوکله چی د بدن یوه غړی ته درد ورسیږی سمدستی دبدن نور غړی درد حسوی اوناراحته کیږی داچی ټولنه هم د بدن حیثیت لری نوپه ټولنه کی داسی کثیف عناصر لکه خلقیان اوپرچمیان !! چه په افغانی ټولنه کی د خطرناکو مکروبونو مثال لری پیداشی او ددی مکروبونو د سرایت مخه د ټولنی د نورو یادرکه مسلمانانو لخوا ونه نیول شی بی له شکه به هغه ټولنه لکه زموږ د ټولنی په شان د تباهی کندی ته ولیږی اوکه د یوی اسلامی ټولنی ټول وگړی خپل ایمانی او وجدانی مسئولیتونه درك کړی اوپه یوه واحد صف کی د مکروبی عناصرو (کمونیستی او الحادی عمالو) په ضد جهاد وکړی اود غلیم ټول پلانونه په نطفه کی خنثی کړی هلته به ئی نه یوازی خپل هیواد ته ډیرښه خدمت کړی وی بلکه ترډیره حده به ئی له ټولی اسلامی نړی نه د خطرناکو مکروبونو د سرایت مخه نیولی وی .

په افغانستان کی خلقیان اوپرچمیان !! دپورته خبری معنی لری که دهغوی په وړاندی لکه چی پورته یادونه وشوه ټول جهادی قوتونه په عمل کی قوی وحدت ونکړی گرانه به وی چی په ځانځانی کی دهغوی (کمونیستانو) ورورستی بقایاوی هم ماته وخوری اود آیند لپاره ئی الحادی تغر ټول شی ، خوپدی کی هیڅ شك نشته چی د جهادی صفونو په ځانځانیو کی به بیا دا مې ژواندی مکروبونه (خلقیان اوپرچمیان) په خپلو تخریبی فعالیتونو پیل وکړی چی هلته به ئی له مینځه وړل د تیرو دیارلسو کلونو پشان په بی شمیره قربانیو کیږی .

هو ! په عمل کی د مجاهدینو وحدت د غلیم په سر هغه گذاردی چی نه یوازی داگذار به د کابل په گدی ناست روسی غلامان وارخطا کړی بلکه بادران به ئی له هرڅا زیات له نا امیدی سره مخامخ کړی ، نو زموږ جهادی مشرانو او نامتو قوماندانانوته پکارده چی زیات کوښښونه د عملی وحدت لپاره وکړی ترڅو د یر ژر تحبیب !! اوملگروته ئی لکه دروسانو !! پشان داسی ماته ورکړی چی ټوله نړی ترې د عبرت درس واخلی ، اوکه دوحدت په ځای د بی اتفاقی ناخوالی نوری هم زیاتی شی بیا به مو نه یوازی تیر دیارلسو کلن جهادی افتخارات په اوبو لاهو کړی وی بلکه د یونیم ملیون شهیدانو ، د لکونو معیوبینو ، یتیمانو ، کونډو اویورو مینډو ارزوگانی او هیلی به مو هم له خاورو سره خاوری کړی اوپه خپل لاس به مو خپله راتلونکی د تیارو په لور رهبری کړی وی .

دافغانستان دقضیې ...

له زندیق څخه توبه هم نه غوښتلی کیږي اومخامخ وژل کیږي اومرتد څخه تر درې ورځو پورې توبه غوښتله کیږي که یې توبه وکړه سه اوکه نه هغه هم وژل کیږي . ښځه یې ورڅخه جلا کیږي – اودا دواړه ولې دژوند حق نلري .

نوکوموکسانوته چې اسلام دژوند حق ندی ورکړی اوکه ژوندی پاتې شي د هغو سره یې مقاطعه اوپریکړه واجب کړې ده اودعادي تعامل اجازه یې هم نده ورکړې نومونږ په کوم دلیل هغوی ته داحق ورکړو چه دهیواد دسرنوشت دټاکلو په باب راسره کښېني اوخبرې وکړي؟ که څوک کولای شي چه په یوه کتاب یاپه یوه مذهب کښې ددې کارد جواز لپاره کوم دلیل پیداکړي هغه دې مونږته را په ګوته کړي .

۱. کمونستان په دوه ډوله دی :

الف – هغه کمونستان چه اصلاً کافران دي له دوی سره خبرې اواترې اوقراردادونه په عادي امورواوهغو چاروکښې چې دمسلمانانو ځانګړې اوداخلي امورندي،جوازلري.

ب – هغه کمونستان اوملحدان چه اصلاً مسلمانان دي خوبیاکافران شوي دوی یامرتدان او یازندیقان دي اوپه افغانستان کې دخلق ، پرچم ، شعله جاویداوئورکوم غیراسلامي ګوندونه چې دي دهغوافرادټول مرتدان اوزندیقان دي . عادي زندیقان اومرتدان هم ندي دوی یوازې له اسلام څخه په اوښتو اکتفا نده کړې بلکې دکفر اوارتداد په لوریې دعوت چلولی اوداسلام په خلاف یې مبارزه کړې ده اوددې مسلمان ولس په لکو نومسلمان وګړي یې د مسلمانۍ په ګناه وژلي دي .

مونږدوی سره دناستې په هکله یادبین الافغاني مذاکراتو اودیالوګ په هکله (نه) ویلې دي . اوس

> دعقل ، انصاف ، سیاست او واقعیتونو په نظر کې نیولو سره دافغانستان دقضیې دحل دپاره زمونږه طرحه داده چې : کمونیستان دې وسله پرځمکه کیږدي ، پخپلو کړودې پښیمانه اوتوبه ګار شي هغوې ته به داسلامي اصولو او افغاني دودونو په رڼا کښې عفو وشي او ددې ترڅخه دیوې مقتدرې اسلامي شورئ له لارې د یومستقر اوځواکمن اسلامي حکومت د جوړیدو او انتخاب لپاره دې زمینه مساعده شي .

تاسو داسلام په چوکاټ کښې راته ووایی چې مونږ پدې کښې د(هو) ویلو حق درلود که نه؟ اودا(نه) مو چه ویلي رواکارموکړی اوکه ناروا؟ اوهغه کسان چه مونږته وایې چه ددښمنانو سره دخبرواترو له لارې دامشکل حل کړی نه تنها چې غواړي مونږ داسلامي خط اولیکې څخه بیرون وباسي بلکې غواړي چه دافغانستان ددې تباهی اودلکونوکسانو دوژل کیدو اودروسانو دپوځ دمداخلې په ا ثرددې ولس د پت اوعزت د پامالیدوجرم هم زمونږ غاړې ته راواچوي ، داځکه چه سبا ته به خلک وایې چه که ددې قضیې حل دخبرواترو له لارې رواکارو نوداخبرې اترې خو دتره کي ، امین اوببرک په وخت کښې هم پیشنهاد شوې وې نوهلته مو ولې موضوع په دغه طریقه حل نکړه او وطن مو ولې تباه کړ؟ اوداحل مو ولې دا دیارلس

کاله وځنډاوه ؟اوکه داکار په هغه وخت کښې ناروا او اوس په کوم دلیل روا شوی دی آیا تاسو دحراموډحلالولوحق لري ؟ نو زمونږځواب به بیا څه وي ؟!

۲-ګډاومختلط حکومت :

ځینومونږته دمختلط حکومت دجوړولو پیشنهادکړی ؤمونږپدې کښې هم (نه) ویلی دي داځکه چه نظر مخکښېو دلایلو ته دکمونستانوسره چه داناستې ولاړې رواندي نوپه حکومت کې دشاملولو او دتصمیم نیولو په مراجعو کښې دشریکولو جوازبه یې له کومه پیداشي ؟

کمونستان ، مرتدان اوزندیقان خولاڅه کوی چې عادي کافران هم دحکومت په غړوکښې اوداسلامی هیواد دتصمیم ګیری په مرجع کې اودوزارتونو اوریاستونو په رأس کښې چې تر لاس لاندې یې مسلمانان وي دشاملیدو حق نلري . که څوک وایې چه داکار جواز لري نودیوه کتاب په حواله اویا دیومجتهدقول په اساس دې زمونږسره خبرې وکړي مونږئې مناقشې ته حاضریو.

ځنې خلک وایې چه دوه درې کسان مؤقتاً درسره وښیی بیابه یې لرې کړی . مونږ وایو چه دهمدې جواز څوک راښودای شي چې داکار روا اومباح دی؟ .

کله چې دمرتد، زندیق اوکافر شاملیدل په اسلامي حکومت کښې ناجایزوي نوبیا دیوه اودوو اولسو هیڅ فرق نشته . **«ولن یجعل الله للکافرین علی المؤمنین سبیلاً»** په یوه منګې کې زرڅاڅکي پاکې اوبه په دوه څاڅکو نجاست باندې له کاره وزي چې بیانه دڅښلو وي اونه دپریولو اونه داوداسه .

دحکومت جوړول په اسلام کښې یوه اسلامي وجیبه ده د اکوم خاص دنیاوي کارنه دی پدې کښې مونږ معین اوټاکلي تعلیمات لرو بلکې دلمانځه په صف کښې که یوملیون کسان ولاړوي نو یوسیک اوهندو نه هم ددې اجازه نشو ورکولای چه راسره ودریږي په همدې ترتیب داسلامي حکومت دمسئولینو په ردیف اودآمرینو په صف کښې کافر نشي استخدام کیدای اوکه په کوم ځای کښې د ځینو حسابي او تخنیکي چارولپاره کافران استخدام شوي هم دي هغه هم د اجیر په صفت دي نه د آمر په صفت .

۳- بی طرفه حکومت :

مونږ بیطرفه حکومت هم ردکړاودا څو وجهې اوړخونه لري :

۱ – داچې په بیطرفه حکومت کښې دمجاهدینو اوددوی د مخالفینو موافقه شرط ده او د یوه اسلامي هیواد دحکومت په جوړولوکښې د کافرو موافقه شرط ګرځول ناروا کاردی ، بالخاصه هغه کسان چې شرعاً د ژوند حق نلري هغوی ته ځرنګه داحق ورکړل شي چې زمونږدهیواد دحکومت په جوړولوکښې ددوی موافقه شرط شي؟

۲ – بله داچې له کمونستانو سره په بې طرفه حکومت مفاهمه او روغه جوړه کړل له هغوی سره غیر مستقیمې خبرې اترې کول دی حال داچه نه تنها چې دا شرعاً ناروا معامله ده بلکې مونږهم باربار په اتفاق سره دټولوتنظیمولخوا ددې کار ردکړې دی .

۳ – د بیطرفه حکومت عناصر پیژندل شوی خلک دی اوکوم لست چې دهغو جوړشوی دی په هغه لست کښې شامل نوموړی مونږ ته معلوم دی،یو زیات تعداد یې هغه خلک دي چې ددې هیواد د تباهی سبب ګرځیدلي،اودین لن د دوی په لاس ټوله شوی اودا اوسني واګذار کمونستان د دوی په غیږ کښې لوی شوي دي . او اکثریت نې د غربي کلتور، ثقافت اوطرز فکر څخه متأثر دي او اسلام د یوه کامل نظام په حیث اود اوسني ژوند دضرورتونو د رفع کولو د پاره مناسب نه بولي او حتی اکثریت یې دا وایې چې داسلام له سیاست او اقتصاد سره څه ؟ اودځینو نورو انحرافات خو د قلم دعفت دساتنې په خاطرنشو یادولای .

٤– بله داچې دوی د اسلام اودکفر ترمینځ جنګ کښې ځان بیطرفه ګڼلی اوڅوک چې د اسلام اوکفر ترمنځ ځان بیطرفه ګڼي هغه په خپل ځان د کفر شاهدي وایې په داسې جنګونو کښې انسانان په دوه ډلو ویشل کیږي ؛ **(الذین آمنوا یقاتلون فی سبیل الله والذین کفروا یقاتلون فی سبیل الطاغوت)** یعنې مؤمنان دخدای په لیارکې اوشیطان پیروان دطاغوت په لارکښې جنګیږي .

۵– دوی د هیواد د آزادولو په ارتباط هیڅ نوع دمسئولیت احساس ندی کړی او اوس په تیاره راغلي اودحق دعوی لري ، تارك د فرضو دګفرارمن الزحف یې کړې او شرعاً دمسلمانانو د امارت وړ او اهل ندي .

٦ – ددې هیواد سرنوشت باید هغه خلك وټاکي اوهغه خلك یې باید دچاوواکې په لاس کې ولري کوموچه یې دآزادی په لاره کښې وینې او خولې تویې کړي دي – الغنم بالغرم – مزد آن ګرفت جان برادر که کارکرد !!

۷ – بیطرفه حکومت ددغو دوو مسلحوځواکونو (مجاهدینو ـــــ اوکمونستانو) په سر سیطرت اوسلطه نشي قایمولی، اونه امنیت اواستقرارامینځ ته کولای شي.

۸ – بیطرفه حکومت به دهغو شیطاني طاقتونو غلام اولاس پوڅی حکومت وي کوم چې ددوی دراوستو په هکله یې کوششونه کړي دي اوفعلاً هم جریان لري.

۹ – مونږ داجهاد د یوه اسلامي نظام دقایمیدو پخاطر پیل کړی دی اوداخلك چې په بې طرفانو ئې شهرت موندلی دوی نه په صحیح اسلام پوهیږي اونه یې راوستلای شي .

اوداچې اسلام په خپل ژوند اونږدې، چاپیریال کښې نوي پیاده کړي نو په هیواد کښې به یې څنګه پیاده اوقایم کړي ؟

براډبیس اوپراخ بنسټي حکومت :

٤ – براډبیس یا پراخ بنسټي حکومت چې ټولې دنیا دهغه دمنلو پخاطر په مونږ باندې فشار او زور راوړی چې باید جوړیې کړو هغه هم مونږ رد کړی او (نه) مو ورته ویلی دی .داځکه چې که ودنیا والو مقصد له براډبیس حکومت څخه هغه حکومت وی چې دافغانستان دټولو مسلمانو ولسو نمایندګي پکښې وي نو مونږ په داسې حکومت جوړ کړی وای چې دشلو تنو په ځای شلوښت اویا هم شپیته تنه وزیران پکښې شامل وای .

خښی دغه موقت حکومت چې جوړشوی ژ دهغومره اکثریت نمایندګی یې کوله چې په ټوله دنیا کښې هیڅ حکومت له دومره اکثریت څخه برخمن نه ؤ – کله به هم چې مونږ چاته ویل چې زمونږ حکومت په رسمیت وپیژنئ، نو دابه یې راته ویل چې ستاسو حکومت براډبیس حکومت ندی ، خو که دالنډ تاریخ مطالعه او وڅیړو نو ویه ګورو چې پسه ټوله دنیا کښې دتره- کی څخه چا داپوښتنه او غوښتنه ونکړه چې ته دې حکومت براډبیس کړه بیا به یې په رسمیت وپیژنو – حال داچې تره کـی د اته لس ملیونه افغانانو له جملې څخه یوازې دپنځه زره خلقیانو نمایندګی کوله او دا ددوي دخولې خبره اواعتراف دی .

اوسره ددې چې ټولو ته داخبره معلومه وه چې دی او دده حکومت دافغانستان د ولس نمایندګی نکوی او ټول دحکومت غړی یې دخلق دباند پیژندل شوی غړی وو اوسره ددې چې دافغانستان دولس اوددین او ناموس دښمنان وو ، سره ددې چې دیوې خونړۍ کودتا په نتیجه کښې مینځ ته راغلی وو ، اوسره ددې چې په ملت کښې رټل شوی اوتجرید شوی خلك وو ټولو وپرژر په رسمیت وپیژانده خو مونږ چې یو نیم ملیون شهیدان ورکړی پنځه ملیونه مهاجر او پنځه نوی په سلو کښې خلك مو ملاتړ کوی اودپردیو دټانك په شا راوړی حکومت په خلاف جنګیږو بیا هم مونږ ته وایې چې حکومت مو براډبیس ندی چې مونږ ئې په رسمیت وپیژنو!!

مونږ ته په څرګنده ډول داپته ولګیده چې براډبیس حکومت کافر حکومت ته وایې یعنې ترڅو چې کافران ځان سره ګډ نکړو څوك مو په رسمیت نه پیژنی نو که دغسی براډبیس حکومت جوړولو ته شرعاً (هو) ویلای شو مانه یې داسلام په کتابونو کښې راپه ګوته کړی؟

۵- روسیې ته د هیئت تګ :

مونږ داهم رد کړی او اشتراك مو پکښې ونکړ که څوك وایې چې روسانو سره ناسته خو ناروانده تاسو ولې ورسره موافقه ونکړه ؟

مونږ وایو چې هیڅکله مو داندی ویلی چې روسانو سره خبرې ناروا دی لاکـــن داخبرې مونږ دځینو وجوهاتوپه بنا رد کړی دی چې په لاندې ډول دی :

الف – څوك چې چاسره خبروته کښینی په خپل مینځ کښې یې باید خبره یوطرفه کړې وي اوپه یوه واحده اجندا سره متفق شوي وي اوپیو واحد حل یې منلی وي، مشر اوکشر یې معلوم وي اوځان سره مشخصه طرحه ولري او داکار دلته ونشو .

ب – داکار دامریکې دفشار په نتیجه کښې ترسره شو ځکه چې امریکه لدې ویریده چې چیرې کابل دمجاهدینو په لاس کې پریوځی نو اسلامي حکومت به قـایم شي ، او امریکا یو اسلامي نظام په افغانستان کښې زغملای نشی او واضح دلیل یې دادی چې سره ددې چې امریکې زمونږ دجهاد دلومړنیو کلونوپه دوران کې دهغه ملاتړ اعلان کړ او ددې جهاد ظاهری تائید یې وکړ خو کله چې

روسانو ماتې وخوړه اووتلو ته مجبور شول او دمجاهدینو موقت حکومت جوړ شو نوامریکایانو نه تنها چې پدې حکومت باندې اعتراف ونکړ بلکې نوریې هم ورڅخه منع کړل ، او ددې دپاره چې دمجاهدینو حکومت په طبیعي ډول په کابل کښې جوړ نشی نو کله چې روسان دنجیب د رژیم له اکمالاتو څخه عاجز شول نو امریکا دنجیب دحکومت حمایه او اکمالات په غاړه واخیستل ځکه چې دهغه دسقوط په صورت کښې مسلمانان مینځ ته راتلل اومجاهدینو دقدرت واګې په لاس کې نیولې .

بیانو امریکا فشارراواچاوه چې روسانو سره خبرې وشي ځکه هغوی پوهیږی چې دخبرو په نتیجه کښې کمونستان مجاهدین نه منی او مجاهدین کمونستان نه منی نو په طبیعي ډول به په دریم ګړی توافق کیږي ، او دریم ګړی ټول هغه خلك دی چې دامریکا او اروپا په غیږ کښې په غربي فکراوروحیه روزل شوی عناصر دی نو داچې ددی خبرو په نتیجه کښې بـه دروس دلاس پوڅـو حکـومـت ختمیږی اوپه عیـن وخت کې بـه دمسلمانانوحکومت منځه نیول کیږی اوامریکایې ډوله حکومت به مینځ ته راځی نودا دی بالفعل ولیدل شو چې دواړو خواؤ په یوه موقت حکومت موافقه وکړه اوددې موقت حکومت عناصر به ددواړو خواؤ په توافق ټاکل کیږي او هغـې بیطرفه حکومت به جوړیږی چې دهغه د رد اونه منلو په هکله مو دمخه اته دلیله په تفصیل سره ذکر کړل .

ج – مونږ روسیې ته تګ ځکه رد کړ چې روسانو سره خبرې که ناروانندی خو هغوی سره دیوه مسلمان ولس دراتلونکی سرنوشت په باب بحث کول او دهغـوی موافقـه شرط ګرځـول اودراتلونکی حکومت په باب له هغوی سره مشوره کول مطلقاً حرام اوناروا کاردی که څوك ددې کار دجواز دعوی لري دلایل دې ووایی ولوکه ده قیل « په لفظ هم وی راودبــــی ، کـــه مونږ اوس هم دخپـــــل هیواد د سرنوشت په باب له روسانو سره خبرې کوو نوزمونږ آزادی څه شوه ؟زمونږ قربانی څه شوه ؟ زمونږ عزت څه شو زمونږ شرعي تګلاره څه شوه .

مسلمانان به دتاریخ په اوږدو کښې دکفارو سره ناست وي قراردادونه به یې کړي وي خو هیڅ څوك دانشی ښوولای چې مسلمانانو به کفارو سره دخپل هیواد کورنی چارې مطرح کړی وي اودخپل هیوادد سرنوشت په باب به یې هغوی ته درائې او نظر حق ورکړی وي !؟

د – که چیرې زمونږ دقضیې دحل په هکله دروسانو یا دامریکا اویا هم دنورو کفارو دخوښې حکومت جوړول شرط وي نو که مونږ دهغوی درضا پسې وګرځو نویقیناً لوی خدای به راڅخه خپه کیږی اوددین اصول راڅخه پامال کیږی او ښکاره ده چې اسلامی نظام نشو قایمولای **« ولن ترضی عنك الیهود ولاالنصاری حتی تتبع ملتهم »** او خدای مکرم ددې ځای چې اسلام راولو پخپله به دبل ملت په دام کښې پریوځی وو او دادی ولیدل شوه چې په مسکوکې له روسانو سره دخبرو په نتیجه کښې ځینی خطرناك قراردادونه لاسلیك شول

۱ – داچې دروســانو کـــوم قراردادونه چې دافغانستان کمونستو حکومتو نو سره شوی دی په هغو کښې افغانستان بالکل خرڅ شوی دی پدې موافقه کښې ددغو قرارداد ونو دالغاء یا تائید حق نه مجاهدینو ته او ورکړ شوی اونه هغه حکومت ته چې ددوی دوینا په اساس دانتخاباتو په نتیجه کښې تشکیلیږی بلکې هغه یې موقت حکومت ته مفوض کړی اوموقت حکومت هغه بیطرفه حکومت دی چې دروسانو او امریکا یانو غلامان به پکښې غړي دي او پدې

ترتیب به دغه ټولو ته تائید اوهغې ته قانوني بڼه ورکړل شي .

۲ – دغاسو انتخاباتو فیصله وشوه چې کافراومسلمان به په برابره سویه په هغې کښې ګډون کوی اوکمونستانو ته به بیرته د یابللی حیثیت او دسیاسي حقوقو داعادې پریکړه شوی وي .

۳ – انتخابات به د ملګروملتونو دڅارنې لاندې ترسره کیږی اوپه تأسف سره باید ووایو چې دافیصله به دمجاهدینو په نامه امضا شوی هم وي چې داپخپله دغیر اسلامي عناصرو دبریالیتوب لـوی تضمین دی .

٤ – په افغانستان کښې به دا انتخابات دسیاسی ګوندونو ترمینځ نه بلکې دسیاسی پوځونو ترمینځ انتخابات وي او دهغې نظارت هم بل پوځ ته ضرورت پیدا کوي دملل متحد ترڅارنې لاندې دانتخاباتو فیصله ضمناً ددې معنا ورکوی چې دامن ترعنوان لاندې به بین المللی قوتونه افغانستان ته راځي او افغانستان به داخل په رسمي ډول مستعمره کیږي .

۵ – مونږ دهغه سرکوزی دښمن کورته ورتګ چې زمونږ ددین او ناموس دښمن وي او تراوسه پورې یې زمونږ دشهیدانو وینې له پنجو اوغاښونو څخه څڅیږي هم داسلام له اصولو اوهم دافغاني دود اودستور سره منافي بولو .

٦ – بل ستر مقصد دامریکا دادی چې ددې قضیې حل دجهاد په نتیجه کښې نه بلکې دامریکا اوملګروملتونو دهلو ځلو په نتیجه کښې راشی اوخلکو ته داسې وښیی چې دموجوده طاقتونو له موجودیت سره سره دیوه جهادی تحریك کامیابی دامکان څخه لرې اوناشونی خبره ده .

نو اوس تاسو پوه شی او اسلامي قضاوت مو چې مونږ په پیشنهاد شوو طرحو او مســألو کښې کوم یو؛ پیشنهاد اوکومې طرحې ته په (هو) باندې ځواب ویلی شو ؟؟

داکوم کوښښونه چې فعلاً ملګروملتونو دامریکا په سرومشاری شروع کړی اوددې جهاد دوست هیوادونه یې ددې تلاشونو په مخ مخ کې روان کړی ددې څخه ستر مقصد یې دادی چې ددغو ولسونو په مینځ کښې چې کومه دوستی راغلی هغه په دښمنی بدله کړی اودا اسلامي اُمت دیووالی اوورور ګلوی مخه ونیسی او مهاجرین په خپه زړه بیرته خپلو کوروته ستانه شی اوسبایې چې جهاد او قربانی ضایع کیږی له خپلو دغو دوستانو څخه یې واتګیری .

زمونږ طرح او وړا...

څوک به څوك داپوښتنه وکړي چې ستاسو حل او طرحه څه ده ؟

نومونږ به ووایو چې زمونږ حل او زمونږ طرحه واضحه اود شرعي ، عقل منطق ، سیاست او واقعیتونو سره مطابقه طرحه ده اوهغه دا چې اسلام وائی چې جهاد داعلای کلمة الله دپاره دی او اعلای کلمة الله هلته راځی چې دمسلمانانو په لاس یوسوچه اوکامل اسلامی نظام مینځ ته راشی ، دهغه نظام په جوړیدو کښې چې غیر مسلمانان دخیل وي یا په کښې غیرمسلمان عناصر غړیتوب ولري هغه اسلامی نظام بلل کیدای نشي او هلته اعلای کلمة الله نشي راتلای . عقـل ، منطـق ، عـدل او انصاف هم داوائی چې چا قربانی ورکړی وي هغه دې نتائج هم ترلاسه کړي ، ددې هیواد د اداری حق دهغه چا دی چې وینې او خولې ئې تویې کړي. خلك دیوې شپې دکودتا په نتیجه کښې په خپلو ولسونو کلونه کلونه حکومت کوی خو مجاهدینو ته ددیارلس کلن جهاد څخه وروسته پخپل هیواد کښې دیوې موقتې دوه کلنې دورې حکومت هم نه ورسپارل کیږي ؟!

سیاست اوواقعیتونه هم ددې غوښتنه کوي چې مجاهدین دې په

٤ مخ

> دمتفق علیه موقت حکومت دجوړیدو لپاره دې یامشورتي شورئ بیارا وغوښتل شي یادې دقوماندانانو، علماؤ دجهادي تنظیمونودارکانو اومجاهدو سپین ږیرو له مینځه داهل عقد اوحل شورئ جوړه شي .

مینه او ...

مالونه یې لوټول اومسلمانان یې په وینو کښې لت پت غورځول ، داسې صحنې هم پیښې شوې چې مسلمانو بیبیانو خپل خواره ماشومان پریښودل اوپه خپله یې له دې کبله سیند ته ودانګل چې د ناولیو روسانو لاس ورباندې ونه لګیږي . کوم مهاجرین چې له خپل پلرني ګران اومسلمان وطن څخه وتلوته مجبورشول هغوی دیارلس خوارلس کاله په پردیسي اوبیوزلې کښې په داسې شان تیرکړل چې د اوړي ګرمیو اود ژمي یخنیو وسوځول اودا ټول له اسلام سره د مینې اوله کفرنه د کرکې په خاطر .

اوس چې الحمد لله زمونږ قربانیو رنګ راوړي دي او اورد جهاد مو د بري په درشل کښې دې څنګه کیدای شي چې په زړونو کښې مو دهغو کسانو مینه ځای پیداکړي چې یا خو یې مخامخ پرمونږ دغه وحشیانه ظلمونه کړي دي او یایې له ابتداء نه دغه ظالمان او زندیقان په خپله غیږ کښې روزلي اوتربیه کړي دي ؟!

دا نن چې دروغې جوړې خبرې دي دا د چاسره روغه جوړه ده ! دا دچا سره د دوستي مزې ټینګول دي ، ددې دوستي اجازه اسلام راکړې ده اوکه زمونږ کرکه په مینه بدله شوې ده !!

که دا کرکه په مینه بدله شوې وي نو باید د ځان نه پوښتنه وکړو چې آیا زمونږ په زړونو کښې د خدای اورسول اود خدای اورسول د دښمنانو مینه په یو وخت کښې جمع کیدای شي !

نن چې مونږ هرڅه ګورو اویا سباته زمونږ په ننیو عملونو کومې نتیجې مرتبیږي دا زمونږ د خپل مینځي اختلاف نتیجه ده ، د ذات البیني اختلاف د تاؤتېټ له کبله مونږ هري دروازې ته دریږو خو د خپل مسلمان ورور دروازې ته چې په تیرو دیارلسو کلونو کښې یې دجهاد دیوه بله ساتلي ده تشو ورتلای کیدای ، په داسې حال کښې چې د اختلاف په صورت کښې نه په افغانستان کښې حکومت جوړیدای شي اونه امنیت ټینګیدای شي ، څه چې کیدای شي هغه دادي چې دوینو توئیدو لړۍ لازیاته توندي شي اوهغه هم داسې چې نه چاته غازي وویل شي اونه شهید اوهغه به هغه لویه بدبختي وي چې دښمنان مو ورته راکاږي او مونږد مینې اوکرکې لګښت ځایونه هیرکړي دي ، مینه د کرکې په ځای کښې مصرفوو اوکرکه د مینې په ځای کښې !

دکابل ښار په دارالامان کې دکابل رژیم دمهماتو یوه ډیپو او (۵) عرادې ټکلیه وسلې داورلمبه شوې

دمیډیا خبري آژانس دمجاهدینو دخبري منابعو په حواله رپوټ ورکړی چې مجاهدینو دنومبر په ۲٦ نیټه دکابل ښار سره خیرمنه بریالۍ داړه، دفرقې په (۸) فرقه او دارالامان په گارنیزیونو باندې چې ددفاع وزارت مرکز دی دسکر (۲۰) گولۍ وارولې چې په نتیجه کې یې په دارالامان کې دسکر (۲۰) د (٦) توقندیو په لگیدو سره دمهماتو یوه ډیپو داور لمبه شوېده.

خبرځای وائي چې په نوموړي ډیپو کي دمهماتو دچاودېدنې اوازونه لمبې او لوگي دلري ځخه ښکاریدل.

خبر ځای زیاتوي چې په دغه برید کي دزژیم (٦) تنه منصبداران اوعسکر وژل شوي (١٦) تنه ټپیان (۲) عرادې ټانکونه او ۳ عرادې موټري هم په اورکي سوځیدلي دي.

تاجران افغاني درکابل ازنجيب تقاضا كردند تا استعفادهد

بگزارش خبرنگاراعزامي (میدیا) ازکابل، نجیب رئیس حکومت کابل بمنظور ارائه رهنمود هاي لازم به تجار افغاني عده، ازآنان را بتاریخ (۲۱) نومبر به قصر ریاست جمهوري دعوت نموده بیانیه، درمحضر آنها ایراد کرد.

طبق گزارش مقابلتاً عده، ازتاجران ملي ازجمله فوروغ بدخشاني واحدي صحبت هاي کرده از وي تقاضاکردند تا ازقدرت کناره گیري کند.

آنها همچنان افزودند، عقیده دارند برقراري صلح در افغانستان وتأمین امنیت سراسري درکشوربدون استعفاي وي ممکن نیست ازوي تاکیداً خواستند، درصورت علاقمندي به صلح هرچه زودتر ازمسند قدرت پائین شود.

بقرار راپور خبر نگار (میدیا) درین محفل که اریکصد نفر از تجارملي (٤٢) تن حضور داشتند با این درخواست یکصدا شده تاکید کردند تا دیر نشده دست به این اقدام بزند.

بقول این خبرنگار، شهریان کابل ازین تقاضا حسن استقبال کرده استعفاي نجیب را کلید حل مسأله افغانستان خوانده اند.

شوروى درآستانهء سقوط

گورباچوف رئیس جمهوري شوروي اعلام کرد که شوروي ازنظر اقتصادي و سیاسي در آستانه، سقوط قرارگرفته است.

به گزارش رادیو کلن گورباچوف که دربرابر شوري دولتي درمسکو سخن مي گفت با اشاره به وضعیت مصیبت بار این کشور ضمن انتقاد از شرکت جمهوري هاي شوروي در زمینه اصلاحات افزود:

هیچ کدام ازجمهوري هاي این کشور به تنهایي قادر به نجات دادن شوروي از این مخمصه نمي باشد. این رادیو به نقل ازتاس خبر گزاري شوروي افزود: گورباچوف در نظر دارد که ازبرنامه هاي اصلاحي یلتسین رئیس جمهور فدراسیون روسیه در زمینه اقتصاد حمایت کند.

دافغانستان دقضیې...

انتقالي مرحله کښې حکومت وکړي ځکه دموقت حکومت ستره وظیفه په هیواد کښې دامنیت او استقرار اعاده کول دي او ددغسې مسلح او جنگېدلي ولس اداره کمزورې اوبې طرفه حکومتونه نشي کولای اوترڅو پورې چې دمجاهدینو سوچه او مسلط حکومت نه وي راغلی دسولې او استقرار دتأمین امکان نشته اوکه دواره دښمنې ولې په قدرت کښې شریکې اویا د نوروقدرت لرونکونو سلطې لاندې په مسلح ورل باندې شي نویوه وړه حادثه هم کفایت کوي چې باقي مانده ولس تباه شي، اوس خو مایتونه او کمېندونه اودفاعي ترتیبات ددې مانع دي هلته به داهم نوې نو مناسب حل دافغانستان دپاره دحق، سیاست او واقعیت په نظر کښې نیولو سره دادي چې کمونستان دي وسله په ځمکه کېږدي، مجاهدینو ته دې سلامي شي، په خپله کړو وړو دې پښیمانه او توبه گارشي، داسلامي اصولو او افغاني دودونو په نظر کې نیولو سره به معافي ورته وشي او دموقتي دورې حکومت دې مجاهدینو ته حواله شي ترڅو په هیواد کښې امن او استقرار راولي او د مقتدرې اسلامي شورئ له لارې د یوه مستقر اسلامي حکومت دجوړېدو اوانتخاب لپاره زمینه مساعده کړي.

که څوك دا پوښتنه وکړي چې دمجاهدینو متفق علیه موقت حکومت به څنگه جوړشي نو زمونږ طرحه پکښې داده چې:

بیا دې مشورتي شورئ بیا راوغوښتله شي او اشخاص یې معلوم دي. او باید دافغانستان دقوماندانانو اوعلماؤ او جهادي تنظیمونو دارکانو اومجاهدو سپین ږیرو له مینځه دمواصفاتو سره سم داهل عقد او حل شورئ جوړه شي چې هغه موقت حکومت مینځ ته راوړي اودغه شورئ به دراتلونکي شورئ ترجوړېدو پورې دوام ولري.

زمونږ دوستان دې پدې پوه شي چې دمجاهدینو حکومت به ددوی او افغانانو او د ټول اسلامي امت ددنیا او آخرت په خیراوښېگڼه وي. اونورحکومتونه چې په غیر له مجاهدینو مینځ ته راځي هغه به دروسي او امریکا لاسپوڅي او دهغوي تراحسان لاندې حکومتونه وي اوهغه به بیا مونږ، گاونډیانو او ټول امت ته درد سر جوړوي اودغه تېرښتګ شوی ولس به په غلطه لار زمونږ اوزمونږ دگاونډیو او اسلام په خلاف استعمالیږي.

اوکه چیرې زمونږ په دوستانو باندې زور او فشار ویات وي او زمونږ تر اړخه واضع او برملانشي دریڅای بولو ترلړه دهغوهلوځلواو تلاشونو په صح کښې دې نه روانیږي کوم چې زمونږ دجهاد اوقرباني دضایع کیدو پخاطر په لاره اچول شوي دي.

زمونږ لاره واضحه ده مونږ دمجاهدینو په لاس یو اسلامي حکومت جوړول غواړو که الله راته نصیب کړي وه دابه موددنیا اوآخرت خوش بختي وي او که پدې کښې موفق نشونو حد اقل ترهغه چې الله جلت عظمته ته ور روانیږو په خپله لاره به ثابت پاتې شوی یو.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دهرات، کندهار، اوغورپه ولایتونو کښې دمجاهدینو بریالی عملیات

دکندهار له ولایت نه رارسیدلي رپوټونه وائي چې مجاهدینو دنومبر په ۲۹ نیټه ددغه ولایت په هوائي ډگر او دتور کوتل دسیمي په پوستو ددرندو وسلو بریدونه وکړل چې دهغي په نتیجه کي دکابل رژیم دقواؤ ځخه دتور کوتل په سیمه کښې دوه عرادې زغره وال ټانکونه دسپرلیو سره سوزیدلي دي.

خبرواځي دغه راز دمجاهدینو دډزو په اثر دکندهار په هوائي ډگر کي دوسلو یوه ډیپو داور لمبه شوي او یوشمیر عسکر اوملیشه یکي وژل شویدي.

رپوټ زیاتوي چې دمجاهدینو ځخه هم پدې برید کي لس تنه ټپیان شویدي.

همدارنگه دهرات له ولایت نه په رارسیدلي رپوټ کي ویل شویدي چې مجاهدینو دنومبرپه ۲٤ نیټه ددغه ولایت دخوشي رباط په سیمه کي دیو کمین په ترڅ کښې دکابل رژیم د قواؤ یوه عراده ټانك داور لمبه کړی اودهغي سپرلي یې له مینځه وړیدي.

دریوټ مطابق مجاهدینو دنومبر په ۲٦ نیټه دزنده جان ولسوالي دقلعه ملیکي دسیمي پر پوسټو برید وکړ چې دهغي په اثر درژیم دقواؤ یوشمیر مړه، یوشمیر ټپیان او یوه عراده ټانك له مینځه وړل شویدي

دغه راز دغور له ولایت نه رپوټ ورکړشویدي چې مجاهدینو دنومبر په ۲۵ نیټه ددغه ولایت دتولك په ولسوالي کي دسید اسماعیل په نوم پرملیشه پوسټو یو لړ عملیات ترسره کړل، چې دهغې په نتیجه کي درژیم دقواؤ یوشمیر ځالي له مینځه وړل شوي. ۵۹ تنه عسکر اوملیشه مړه اویوشمیر نوریې ټپیان شویدي.

په اوکراین کښې زیاتروکسانو له شوروی څخه دخپلواکی په پلوی رایی ورکړی

مسکو -- دقوس ۱۰

پرون په شوروي اتحاد کښې دمساحت اوقدرت په لحاظ ددویم لوي جمهوریت داو کراین، خلکو دیو عمومي ریفرانډم په ترڅ کښې دملي خپلواکي په پلوي رأي ورکړې.

دامریکا غږ راډیو درپوټ په اساس داسي ښکاري چې اوکراین به دروسیي او نورو گاونډیو جمهوریتونو سره دځکي په سرسختي ارجدي خبري اتري په مخکښې ولري داځکه چې له دغو انتخاباتو ځخه فقط دوه ورځې مخکښې دروسیې دفدراسیون جمهور رئیس خبرداري ورکړ چې له شوروي اتحاد ځخه به داوکراین بیلیدنه هم دروسیې اوهم دشوروي اتحاد لپاره یو سخت گوزار وي.

یلتسین دې خبرې ته هم اشاره کړې چې داوکراین بېلوالي به دروسیې اوباقي پاتې شوروي جمهوریتونو ترمینځ دیوې سیاسي موافقې لپاره امکانات کمزوري کړي ده دماسکو ورځپاڼي ازویستیا سره په مرکه کښې وویل چې که اوکراین دااتحاد ترون لاسلیك نکړي نو روسیه به هم دغه ترون ونه مني.

دشوروي اتحاد جمهور رئیس گورباچف هم په دې برخه کښې یوجدي اخطار ورکړي اوپه دنه هفته کښې یې په یوه وینا کښې ویلي چې دي له اوکراین ځخه دآینده اتحاد تصور نشي کولای.

عالیرتبه روسي مقاماتو ویلي دي چې که چیري اوکراین دخپلواکي لاره ونیوله نو دغه جمهوریت به چې په ختیځه برخه او کریمیاکښې یې یو لوي روسي اقلیت ژوند کوي دروسیي لخوا دځمکي له دعوي سره مخامخ شي.

دتیرڅاسپتمبر په میاشت کښې دسن پیټرز بورگ ساروال اناتولي سبچك چې دجمهور رئیس بوریس ایلتسین یو نږدي ملگري دي وویل: که اوکراین دشوروي اتحاد سره پاتي شي نو روسیه به دغه په خاوره هیڅ دعوه ونکړي. مگر ده وویل که اوکراین جلا کیږي نو دنوبو سرحداتو په برخه کښې به مذاکرات ورسره وشي او ددي علت دادي چې اوسني سرحدات بي له دي چې په سیمه کښې قوي ترکیب په نظر کښې نیولي دي په خپل سرټاکل شوي دي.

سبچك کریمیا ته اشاره وکړه چې اکثریت اوسیدونکي یې روسان دي اوماسکو په ۱۹٥٤ کال کښې په اوکراین کښې شامل شو.

داوکراین دخپلواکي غوښتني دمبارزي سره دهغه دجنوبي گاونډي رومانیي دځمکي دعوا هم پیل شوي ده داوکراین دخپلواکي دریفرانډوم څخه یوه ورځ مخکښې درومانیي پارلمان وویل: په هغو سیمو کښې به چې شوروي اتحاد په ۱۹۳۹ کال کښې دنازي - شوروي موافقې اویا، مولوتف ریبن تروف، دتړون په اساس ونیول له دغه ریفرانډوم ځخه وروسته انتخابات وشي.

دبي بي، سي راډیو درپوټ په اساس په اوکراین کښې دجمهوري ریاست لپاره ټول کاندیدان او مطبوعات دخپلواکي په پلوي دي. رپوټ زیاتوي په دغو انتخاباتو کښې زیاتره زاړه کمونستان په دي خاطر ددغه جمهوریت له اوسني جمهور رئیس گریچوك ته ملاتړ کوي چې خپل قدرت له لاسه ورنکړي، داوکراین دخپلواکي لپاره تیره میاشت هم دنظرپانو یوه احصائیه راغونډه شوي وه او په هغه کښې په اوسط ډول ۷۳ فیصده خلکو دخپلواکي دتصمیم ملاتړ کړي ؤ. همدا راز دنظرپانو دمعلومولو په دغې احصائیه کښې داخبره هم جوته شوي وه چې داوکراین په جمهوریت کښې روسان، یهودیان او نور اقلیتونه هم دخپلواکي له پروسي نه ملاتړ کوي. رپوټ زیاتوي چې ددې خبري په دواندي عمده دلیل بیابي داقتصاد موضوع وي ځکه اکثره خلك داوکراین په جمهوریت کښې فکر کوي که چیري داجمهوریت دشوروي اتحاد څخه جلاشي نو هر څوك به په نوموړي جمهوریت کښې ښه ژوند ولري.

له بلې خوا داوکراین جمهوریت په شوروي اتحاد کښې یو دهغو جمهوریتونو له جملې ځخه دي چې تراوسه پورې پکښې دنژادي اقلیتونو ترمینځ اخ اوډب ندي پیښ شوي.

اکثره مبصرین په دي عقیده دي چې په نړیواله سطحه به داوکراین خپلواکي په روسیې باندې خورا قوي اغیزه وکړي ځکه داوکراین په خپلواکي سره به دشوروي اتحاد زیر ځواکي پاي ته ورسیږي.

مجاهدینو په...

دخبرځاي درپوټ له مخې مجاهدینو پدې جگړه کي درژیم دقواؤ نه یوموبل پیکا ماشیندار، پنځه میله کلاشینکوفونه دیوي اندازي مهماتو سره په ولجه نیولي دي.

دغه راز میډیا ته دهرات ولایت ځخه دیوبل رسیدلي رپوټ له مخې مجاهدینو هم په همدي نیټه ددغه ولایت دزنده جان ولسوالي دقلعه ریگ په سیمه کښې درژیم په ځاي پرځاي شووقواؤ یوبل عملیات ترسره کړل چې دهغو په اثر دکابل رژیم دقواؤ یوه پوسته ویجاړه اوساتونکي یې له مینځه تللي دي اوهم درژیم قواؤ ته دراننده مالي تاوانونه رسیدلي دي.

مجاهدینو د...

پدې نیټه کي درژیم له قواؤ نه یوه عراده لارې، یوموبل سل وزي، شپږ میله کلاشینکوفونه دیوي زیاتې اندازې مهماتو اولوژستیکي موادو سره ولجه کړېدي.

د نوم بدلول

بوټي اولس خان د میرمحمد ځوی دکندر ولایت دقلعه زال ولسوالی اوسیدونکی چې اوس د صوابی په کمب کښې استوگنه لري خپل نوم یې په عبدالله «مخلص» بدل کړېدی له ټولو دوستانو ځخه یې هیله ده چې لدې وروسته نوموړی ورور دعبدالله «مخلص» په نوم وپیژني.

تأسيس خبر...

انیس دور میشوویچ رئیس این آژانس درمصاحبه باروزنامه دولتي بوریا گفت: بولیتن هاي آژانس مینا براي جهان اسلام ومؤسسات مربوط به آن وهمچنین سازمان هاي بین المللي اسلامي ارسال خواهد شد.

خانم نجیب...

درحال حاضر حاکم برسرنوشت مردم اند ازکابل فرار نمایند.

بقرار راپور خبرنگار اعزامي (میدیا) وضع ناهنجار زندگي درکابل ومشکلات روز افزون مردم درین شهر مقامات مربوطه رژیم را تحت فشار قرارداده واحتمال فرار آنها روز تا روز قوت مي گیرد.

دغورپه ولایت...

اوخپله همکاري یې دکابل دکمونیست رژیم دقواؤ سره قطع کړیده.

خبرځاي دتسلیم شوو ملیشه ؤ په حواله وویل چې ددوي ملیشه ؤ ملگرو دچغچران امنیتي کمربند کي خپلې ځالي ویجاړې کړي اویو توپ یو اتیا (۸۱) ملي متري یې د (۷۰) میله کلاشینکوفونو سره مجاهدینو ته راوړي اورژیم دملیشه ؤ دمرستې ځخه لاس په سرشویدي.

په یوگوسلاویا...

لاس کښې لري. دبوسني هرزگوین دگوند رئیس او جمهور رئیس علي عزت بگوویچ په دي کنگره کښې دیو لړ وینا په ترڅ کښې په یوگوسلاویا کورني جنگ یو چچي اوبیځایه جنگ وباله او ویې ویل: مسلمانان دهغه په وړاندي بې طرفه دي.

بخش شایعات احتمالي...

آنها علاوه کردند، شایعات است که مقامات رژیم ازمدتي است مصروف جمع آوري اسعار خارجي ازبازار بوده واین امرسبب خالي شدن بازار ها از اسعار شده است.

آنها گفتند: کمونیست ها کابل را به ما تمکده تبدیل کرده اند همه مردم رنجور وپریشان اند وترس زمستان بي مواد تسخیني همه جا سایه افگنده است.

یك سیر آرد بوزن کابل (۲٥۰۰) افغاني قیمت دارد یك گیلن پطرول (٤۰۰۰) افغاني ویك گیلن دیزل (۲۷۰۰) افغاني، یکسیر چوب بید (۱۰۰) افغاني ویك بیرل دیزل براي مصرف بخاري منزل، یك صد هزار افغاني ارزش دارد.

آنها همچنان گفتند درشهر هرچه پالیدند تایك قاب ساعت بمنظور تحفه یکي ازدوستان درپشاور خریداري وبنا خود بیاورند، اما جز چند قاب ساعت محدود روسي کهنه که آنهم (۱٥۰۰۰) و (۱٦۰۰۰) افغاني قیمت داشت پیدانشد.

بقول آنها یك تابلیت اسپرین بابر مبلغ (٥۰) افغاني قیمت داشت وار ادویه، موثر دیگر اثري دربازار نبود.

آنها در رابطه به مواد کوپوني اظهار داشتند: ازپنج ماه است که کسي مواد کوپوني دریافت نداشته ومواد ناچیزي هرگاه درمغازه ها پیدا شود، بدون واسطه ومعرفت بدست نمیرسد.

امریکا تکنالوژی فضایی واتومی شوروی راخریداری میکند

روزنامه، نیویارك تایمز به تاریخ چهار نومبر با اشاره به این که برخي از کالاهاي شوروي ازمشابه غربي آن بهتر است مي افزاید: امریکا که بسیار مشتاق دسترسي به اطلاعات مربوط به این اقدام است، هیئتي را براي انجام معامله باروس ها به مسکو اعزام کرده است.

نیویارك تایمز درعین حال فاش ساخت: که دولت امریکا بخشي از اقلام درمعرض فروش شوروي را خریداري کرده است، اما مقامات دولتي از افشاي آن سربازمیزنند.

این روزنامه بادکر این مهم که قصر سفید سرگرم بررسي امکان خرید ...عمده از شوروي است به نقل از دکتور ریچارد واگاینکي ازمقامات بنتاگون که دربرنامه جنگ ستارگان امریکا فعال است نوشته نتیجه سالها تحقیق وکوشش روسها که به ساخت وتولید تکنالوژي مختلف منتهي شد منافع زیادي براي امریکا در بردارد. این مقام افزود تکنالوژي شوروي ممکن است مشتریان الماني وجاپاني هم داشته باشد.

نیویارك تایمز افزود: صنعت فضائي شوروي یکي ازبزرگترین بخش هاي صنایع اینکشور درجریان جنگ سرد بود که باتدابیر خصوصي امنیتي ازآن محافظت میشد این روزنامه افزود: در اوایل امسال نیز پنتاگون اعلام کرد که قصد دارد ۱۲ ملیون دالرصرف خرید راکتورهاي پیشرفته اتومي شوروي کند وبه همین دلیل تاکنون چند هیئت امریکائي به مسکو رفته اند.

همچنین نیروي هوائي امریکا قصد دارد موشکهاي پیشرفته « ار - دي ۱۷۰ » روسي راکه گفته میشود پر قدرت ترین موشك باسوخت مایع درجهان است از شوروي خریداري کند. این روزنامه به نقل ازمقامات امریکائي قیمت هاي پیشنهادي شوروي را براي تکنالوژي خود معتدل توصیف کرده، ونوشته است به عنوان مثال روسها براي هر تحقیق فضایي خود قیمتي معادل ۰۰ ٥ هزار تابلك ملیون دالر تعین کرده اند، نیاز هاي اقتصادي شوروي علت اصلي حراج تکنالوژي پیشرفته این کشور اعلام شده است.

دشوروی ددفاع دوزارت یو لوړرتبه مقام: که دشوروی دفاعي سیستم ړنگ شي نوکیداي شي چې شوروي اتحاد له تباه کوونکي خطر سره مخامخ شي

ماسکو - دقوس ۱۰

ډگر جنرال والدري مانولوف چې دشوروي ددفاع په وزارت کښې دعامه ارتباط دڅانگې مشر دي وایي که دده دهیواد ددفاع منظم سیستم ړنگ شي نو کیداي شي چې شوروي اتحاد اوټړي دیو تباه کوونکي خطر سره مخامخ شي.

جنرال مانولوف وایي په شوروي اتحاد کښې اوس اتومي وسلې په داسي یو جامع امنیتي سیستم کي خوندي شوي دي چې دده په قول نه پریږدي چې د بې مسئولیته خلکو لاس ته ورشي. مگر جنرال مانولوف وایي که دشوروي دفاعي سیستم ړنگ شي اوجدا شوي وسله وال پوځ ددښمنانو لاس ته ورشي نو په هغه صورت کښې دهرشي احتمال شته دي.

جنرال مانولوف داهم وویل چې دشوروي اتحاد وسله والي قواوي نوري اندیښني هم لري دي وایي چې په سهې متي کښې چې ځوانان عسکري ته راجلب شول نو دروسیې په فدراسیون او په نورو جمهوریتونو کښې ډیرو ځوانانو په چل ول ځانونه دیچې نه خلاص کړل.

جنرال مانولوف زیاته کړه چې دشوروي اتحاد داتباعو دعسکري دخدمت او ددي غوښتني سره چې دهیواد دفاع وکړي خپله علاقه کمه کړي ده او دملکي عسکرو ترمینځ هم ډیره زیاته نا امیدي اوفشار شته دي. ددوي سره دخپلي آینده او ژغورني غم دي.

دي وایي چې دشوروي اتحاد دصاحب منصبانو سره اندیښنه هم شته چې په ډیرو جمهوریتونو بالخصوص دقفقاز دسیمي په جمهوریتونو کښې به دشوروي په عسکرو او نظامي تأسیساتو باندي حملي وشي.

دراسپانیا ۱۱ ملیون فقیر زندگي میکند

در اسپانیا ۲۱ ملیون فقیر زندگي میکند که چهار ملیون نفر از آنها درفقر شدید بسر میبرند.

« روشیزرولودن » رئیس سازمان خیریه کاریتاس درسیمناري درمورد فقر گفته است که ۸ ملیون نفردیگر نیز در اسپانیا درفقر نسبي بسر میبرند.

در این سیمینار که باعنوان « فقر درد انسان درشهر » برگزار شد رئیس عمومي سازمان مذهبي کاریتاس رفاه وزندگي تجملاتي ثروتمندان را عامل ایجاد فقر خواند.

په کوریا کښې...

روانه میاشت کښې په جنوبي کوریا کښې دامریکا په کلښتوري مرکزونو باندې داعتراض لرونکو محصلینو دریمه حمله گڼله کیږي.

دسیول څخه دروېتر دخبري آژانس درپوټ پراساس دجنوبي کوریا دپولیسو یو ویاند ددغې حملي دتائیدولو په ضمن کښې وویل: دجنوبي کوریا زیاترو محصلینو د اوسپنیزو میلو او اور بلوونکو بموتو په وسیله دغه مرکز ترحملي لاندي نیولي او دهغوي څخه یې دوه تنه بندیان کړل.

کشف اجساد عساکر زنده بگور عراقي

خبرگزاري عراق « اینا » تاکید کرد که اجساد چهل عسکر عراقي که درجریان جنگ خلیج فارس بدست عساکر امریکائي زنده به گور شده بودند درجنوب عراق کشف شده است.

به گزارش خبرگزاري فرانسه اینا تصریح کرد که این اجساد دریك گورجمعي درپنجا کیلومتري جنوب شهر ناصریه درمجاورت جاده اي که ناصریه را به بصره، شهر اصلي جنوبي عراق میپیوندد پیداشده است.

خبرگزاري عراق افزود: بیشتر اجساد بکلي تغیر شکل داده اند درحالیکه برخي ازقسمت هاي اجساد دیگر پراگنده شده اند.

اینا تاکید کرده بود که عراق اجساد چهل سرباز عراقي راکه درجریان جنگ خلیج فارس درمنطقه، نزدیك سرحد عراق وعربستان سعودي زنده به گورشده بودند کشف کرده است.

پته:
پینبور - پاکستان
P.O.BOX---- 467